

# د جنسي او جنس پر بنسټ تاوتريخوالي په اړه معلومات

IOM UN MIGRATION

## زموږ په اړه

د PROTECT خونديتوب پروژه، د کډوالو لپاره نړيوال سازمان (IOM) او همکارانو لخوا چليږي، موخه لري چې د جنسي او جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالي قربانيانو لپاره د ملي ملاتړ خدمات پياوړي کړي. د PROTECT هدف دا هم دي چې دا خدمات مهاجرينو، پناه غوښتوونکو او کډوالو ته، که ماشومان وي او که لويان او په شمول د هغه خلکو چې د LGBTI په توګه پيژندل شوي وي دغه خدمتونه وړاندې کړي.

https://eea.iom.int/PROTECT-project

د اروپايي اتحاديې د حقونو، مساواتو او تابعيت برنامې لخوا تمويل شوی
(2020-2014)

EMETARCOIRIS FUNDACIÓN, arq Psychotrauma Expert Groep, LEGEBITRA, Rumiñahui Asociación, Movimiento por la Paz, Rutgers Kenniscentrum seksualiteit, PHAROS Centre of Expertise on Health Disparities

## په ياد ولري!

### SGBV ستاسو ګناه نه ده!

په ټوله نړۍ کې ډيرې ښځې، سړي، نجونې او هلکان په خپل ژوند کې د فزيکي يا جنسي يا د SGBV بل ډول ځورونې سره مخ کيږي. هر څوک د جنسي او جنس پر بنسټ تاوتريخوالي قرباني کيدای شي.

### تاسو يوازې نه ياست. مرسته شتون لري!

خلک شتون لري چې مرسته کولی شي، لکه ډاکټران، پوليس افسران، ټولنيز کارکوونکی.
که تاسوSGBV سره مخ شوي ياست، هغه چا ته ووايئ چې تاسو پرې باور لرۍ يا پورته ذکر شوي سازمانونو سره اړيکه ونيسئ.

### د نورو سره مرسته وکړئ او پخپله هم خوندي اوسئ!

که څوک د SGBV سره مخ شوی وي او تاسو ته درشي، دوی ته غوږ ونيسئ، په دوی باور وکړئ او دوی ته ياد کړئ چې د SGBV د دوی ګناه نه ده او دا چې دوي يوازې نه دي. دوي ته ووايئ چې مرسته موجود ده او دوي مرستې لټولو ته وهڅوئ. که دوي توافق کوي تاسو کولې شئ د پورته ټول ذکر شوي سازمانونو سره اړيکه ونيسئ.

دغه پاڼه او وډيو شريکه کړئ چې نورو خلکو ته ورسيږي.

https://youtu.be/MDyzPoGDue0

په کرویشیا کي هر شخص ورته حقونه لري د عمر, جنس پيژندنه، جنسي دريځ، ژبه، مذهب يا دوي د کوم ځای نه راغلي، پام کي نيولو څخه پرته۔

تاسو حق لرئ چي خوندي پاتي شئ او له هر ډول تاوتريخوالي څخه پاک ژوند څخه خوند واخلئ. که څوک تاسو ته زيان اړوي يا درته د زيان اړولو ګواښ کوي يا څوک چي تاسو يي پيژنئ، په ياد ولرئ چي تاسو د مرستې او خونديتوب ترلاسه کولو حق لرئ.

تاسو يوازي نه ياست۔ مرسته شتون لري!

# جنسي او د جنس پر بنسټ تاوتريخوالی (SGBV)

## SGBV څه شی دی؟



جنسي او د جنس پر بنسټ تاوتريخوالی SGBV د يو شخص پر وړاندي د هغوي د جنس، جنسيت يا جنسي شناخت پر بنسټ تاوتريخوالی کول دي. SGBV کي هغه فعاليتونه شامل دي چي ی فزيکي، ذهني يا جنسي زيان يا تکليف، د دغه ډول فعاليتونو ګواښونه، ډارول يا د آزادۍ څخه بې برخي کولو لامل جوړيږي۔ مرتکبين اکثر زور، جبر، غولونه يا په مهارت اداره کول کاروي. ډير وختونه SGBV نه پيژندل کيږي يا راپور کيږي

جنسي تاوتريخوالی ډېر ډولونه لري او اجباري جنيسي تيری، ټيي کول يا ناغوښتل شوي تناسلي عضو لمس کول, د چا سره اجباري جنسي عمل کول، يو کس اړ کول چي د جنسي تيري قرباني ته وګوري، په جبر بربنډول او داسي نور پکي شامل دي۔ جنسي تاوتريخوالی د جنسي عمل په مانا نه دی۔ دا د تاوتريخوالي، ځواک او کنټرول په مانا دی۔

د SGBV نور مثالونه شامل دي چي په کورنۍ کي پيښيږي; اجباري واده کول، په ماشوم زيږولو يا اسقاط حمل اړ کول، د ناغوښتل شوي ليد سره تنګول، تبصرو يا اشارو سره ځورول، د پيسو په بدل کي بل هيواد ته ليږدل، جنسي عملونه يا مزدوري، د غيرت په نامه جرمونه، د ښځني تناسلي اعضا مسخ کول، د يومذهب په تعقيبولو اړ کول چي تاسې يې نه غواړئ، جاسوسي کول يا تعقيب کول.

که تاسو فکر کوئ او شک کوئ چي تاوتريخوالي تاسو سره پيښږي يا حتي تاسو باور نه لرئ، تاسو د مرستي لپاره غوښتنه کولی شئ۔

## جنس، جنسيت او جنسي پيژندګلو څه توپير لري؟

د يو شخص جنس د اناټومي او بيالوژيکي عواملو پر اساس د زيږيدني په وخت ورکول کيږي، په داسي حال کي چي ټولنه د جنس په اړه ځنګله فکر کوي چي خلک بايد چلند (دوي څنګه بايد کالی واغوندي او خپل ځان وړاندي کړي، د دوي کارونه او مسوليتونه بايد څه وي) وکړي د دوي د بيالوژيکي جنس سره سم.



د يو شخص جنسی پيژندګلوی د هر شخص په ژوره توګه احساس شوي داخلي او انفرادي د جنس تجربي ته اشاره کوي. دا ممکن د زيږيدني په وخت ورکړل شوي جنس سره مطابقت ولري يا نه، د بدن شخصي احساس په شمول (کوم چي په کي ممکن شامل کيدای شي، که په خپل رضا غوره شوي وي، د طبي، جراحي يا نورو طريقو له لاري د بدن ښکاره ڼه يا فعاليت بدلول) او د جنس نوري څرګندوني، په شمول کالي، خبري، او عادتونه.

## چا ته SGBV مخي ته راتللی شي؟

SGBV هرچا ته مخي ته راتللی شي او دا هيڅکله د قرباني ګناه نه ده. ښځي او سړي، هلکان او نجوني، لويان او ماشومان ټول د SGBV قربانيان کيدای شي. ځيني وختونه تاوتريخوالی په چا ترسره کيږي ځکه چي دوي ده هغه سره مينه لري يا هغوي کمزوري وي. مهمه نه ده، تاوتريخوالي هيڅکله د توجيح وړ ندی.

SGBV اکثريت ښځو او نجونو ته اشاره کوي، کوم چي تر ټولو زيات اغيزمن شوي ډلي استازيتوب کوي. بيا هم، د SGBV پيښو چي د سړو او هلکان په وړاندي ترسره شوي وي په اړه د معلوماتو نه شتون په دي معني ندي چي دوي د SGBV څخه تېر شوي ندي, مګر په حقيقت کي د دي مخې ته راتلل ستونزمن دي.

## څوک کولی شيSGBV ترسره کړي؟

هر څوک د SGBV فعالیتونه ترسره کولی شي. جنایتکار هغه څوک کیدای شي چې تاسو يي پيژنئ، لکه د کورنۍ نږدي غړی، يو رومانتيک ملګری، د ټولني نفوذ لرونکۍ غړي کوم چې د واک په مقام کي وي، همدارنګه اشخاص يا اداري چي تاسو يي نه پيژنئ. د SGBV ديرعملونه د هغه چا لخوا ترسره کیږي چي قرباني يې پيژني۔

## کوم ځای کي SGBV پيښيدلي شي؟

**SGBV هر ځای** کي پيښيدلي شي: ستاسو په خپل هېواد کي، بل هيواد ته د سفر په جريان کي او په هغه هيواد کي چي تاسو په کي اوس مهال ژوند کوئ. دا په عامه ځاينو کي او په شخصي کورونو کي مخي ته راتللی شي، په کار ځای کې، د توقيف په مرکزونو او ځندانونو کي، په اتفاقي دمي ځاينو کي او په چيک پوستو کي.

## ايا SGBV زما ګناه ده؟

SGBV هيڅکله د قرباني ګناه نه ده. د جنس دستورونه او غير مساوي خپلواک اړيکي د SGBV اصلي لاملونه دي.  جنايتکار واحد شخص دی چي تورن ګڼل کيږي.

## څه به وشي که زه بيرته جګړه ونه کړم؟

د يو بريد په جريان کي جګړه نه کول ډیره عادي خبره ده ځکه چي تاسو ممکن د ګډوډي احساس وکړي يا د زړه ماتوالي او نښتلو احساس وکړي او تاسو نه پوهيږي چي له دغه حالت څخه د وتلو لپاره څه وکړو. دا پدې مانا نه ده چي تاسو د تاوتريخوالي سره موافقت کوئ۔ په ياد ولرئ چي تاسو تل خپل فکر بدلولي شي، حتي که تاسو مخکې د څه شي سره موافق شوي ياست.

## څه که زما څخه د پيسو، مرستي شيانو په بدل کي د جنسي عمل غوښتنه وشي؟

هيڅ څوک حق نلري چي تاسو سره اجباري جنسي عمل وکړي يا تاسو په جنسي عمل اړ کړي د څه شي به بدل کي چي تاسو يي غواړئ يا ورته اړتيا لرئ.

که څوک تاسو جنسي عمل ته اړ کړي د پيسو، مرستي يا نور شيانو په بدل کي، نو دا جنسي استحصال دی او د جنسي تاوتريخوالي يو ډول دی.

## د SGBV پايلي څه دي؟

SGBV فزيکي او احساساتي دواړه پايلي لرلي شي. په فزيکي ډول SGBV کولي شي وجود ته د زيان، درد، سرايت لامل وګرځي او ښځي او نجوني د نورو پايلو تر څنګ، پرته له غوښتني اميندواري کيدای شي۔ د SGBV په احساساتي پايلو کي ذهني ټکان، د ډار خوبونه، بې خوابي، د سر دردونه او ډير مختلف احساسات لکه غصه، شرمندګي، خفګان، ګناه، ډار شامل ذي۔ ټول احساسات اتباري دي او کرويشيا مسلکي او محرم خدمات لري چي د قربانيانو ملاتړ وکړي. تاسو يوازي نه ياست۔

### په ياد ولري!

**هر څوک** د SGBV قرباني کيدای شي

SGBV **هيڅکله** د قرباني ګناه نه ده

SGBV **تل د منلو وړ نه** دي

تاسو د مرستي غوښتنه کولی شئ



# موجود خدمتونه

## زه څه کولي شم که زه یا بل څوک چي زه یي پیژنم SGBV سره مخ وي یا یې شاهد وي؟

که تاسو یا بل څوک چي تاسو يي پیژنئ SGBV سره مخ وي یا یې شاهد وي تاسو کولي شئ د کورنۍ یو غړي ته، یو خپلوان ته یا بل یو بالغ ته چي تاسو پې باور کوي ووایئ.

تاسو یوازي نه یاست. تاسو کولی شئ د پناه غوښتني مرکز له کارکوونکو څخه کوم ځای چي تاسو اوسیږئ یا له خپل قانوني استازي څخه یا سرپرست څخه تل مرسته وغواړئ. نور خلک شتون لري چي تاسو سره مرسته کولےی شي، لکه ډاکټران، پولیس افسران، او ټولنیز کارکوونکی. همداراز، تاسو کولی شئ د کډوالو او مهاجرینو سازمانونو، د ښځو او ځوانانو سازمانونو سره اړیکه ونیسئ.

تاسو کولی شي د بیړني خدماتو سره د اړیکي لپاره لاندي ټلیفوني شمېرو ته زنګ ووهئ:

د کرویشیا پولیس: 112 یا 192
بیړني طبي مرسته 112 یا 194



## په کرویشیا کې د ګټورو اړیکو لیست



### په کرویشیا کي د ټولینزو خدمت مرکزونه

د سیمه ایزو ټولنیزو خدماتو مرکزونو لست د اړیکو سره په ویب سایټ کي شتون لري:
https://mdomsp.gov.hr/adresar-ustanova/1673

### اومبډسمان

info@ombudsman.hr
**زګریب**
01 /4851-855(سه شنبي څخه تر جمعي، 12.00-9.00)،
Trg hrvatskih velikana 6, 10 000 Zagreb
**رجیکا:**
051 /563-786; (دوشنه تر پنجشنه، 12.00-9.00)،
Korzo2a/I, 51 000 Rijeka
**اوسیجک:**
031 /628-054(دوشنبې څخه تر پنجشنبې، 12.00-9.00)،
Hrvatske Republike 19, 31 000 Osijek
**سپلټ:**
021 /682-981(دوشنه څخه تر پنجشنبې، 12.00-9.00)،
Mažuranićevo šetalište 8A, 21 000 Split

### د جنس مساواتو مدافعین

(دوشنبي څخه تر جمعي، (14.00-9.00
ټلیفون: 01/4848-100
بریښنالیک:ravnopravnost@prs.hr
ادرس: Preobraženska 4/1, 10 000 Zagreb

### اټانومس ویمنز هاوس زیګریب

دا ښځو او ماشومانو ته وړیا پناه ځای او مشوره وړاندې کوي
د تلیفون وړیا لیکه:
0800 55 44 (جمعې څخه تر دوشنبې، 17.00-10.00)
بریښنالیک:azkz@zamir.net
ویب پانه: www.akaz.net

### BABE! ”فعال اوسئ. ازاد اوسئ.“

دا د ښځو او ماشومانو لپاره پناه ځایونه چلوي او حقوقي او رواني ملاتړ چمتو کوي.
SOS ټلیفون لیکه:
0800 200 144, 01/4661-351
بریښنالیک:babe@babe.hr
ویب بانه: www.babe.hr
ادرس: Selska cesta 112a, 10 000 Zagreb

### CARITAS ARCHDIOCESE OF ZAGREB

د ښځو او ماشومانو پناه ځایونه چلوي
(راجع کولو ته اړتیا ده).
کاریټاس سوشل سروس
(دوشنبه ، سه شنبه ، پنجشنبه. 12.00-9.00)
ټلیفون: 01/3668-824
بریښنالیک:jbosnar@czn.hr
ادرس: Ulica svetog Nikole Tavelića 30, 10 000 Zagreb

د کورني تاوتریخوالي قربانیانو لپاره کور
پناه ځایونه چلوي (راجع کولو ته اړتیا ده).

ټلیفون: 099/2391-614
بریښنالیک:zon@czn.hr; czn@czn.hr
ادرس: p.p. 64, 10 001, Zagreb

### سنټر فار ویمن وار ویکټم روسا

د انساني قاچاق قربانیانو لپاره د SOS تلیفون لاین:
0800 77 99(هره ورځ، 18.00-10.00)
ټلیفون: 01/4551 142
بریښنالیک: cenzena@zamir.net
ویب پانه: www.czzzr.hr
ادرس: Kralja Držislava 2, 10 000 Zagreb

### د رواني مرستي لپاره ټولنه - د ماشومانو ، ځوانانو او کوژنیو لپاره مشوره ”MODUS“

دا د کورنۍ غړو ته مشوره او ملاتړ وړاندې کوي چې د کورني تاوتریخوالي څخه اغیزمن شوي وي.
ټلیفون:01/4621-554; 095/4826-111
(دوشنبې څخه تر جمعې، 21.00-9.00)
بریښنالیک: modus@dpp.hr
ویب پانه: www.dpp.hr
ادرس: Kneza Mislava 11, 10 000 Zagreb

### DUGA ZAGREB ، د ماشومانو او لویانو لپاره کور

0800 8898 (دوشنبې څخه تر جمعې، 19.30-16.30)
ټلیفون: 01/6383 305(هره ورځ، 20.00-8.00)
د کورنۍ تاوتریخوالي جنایتکارانو په روحي درملنه کي د شاملولو په اړه د معلوماتو لپاره ټیلیفون
(دوشنبه او چارشنبه) 20.00-14:00
(سه شنبې څخه تر جمعې)
01 / 4590-560 :(15.00-9.00
بریښنالیک:tretman@duga-zagreb.hr
ادرس: P.P. 133, 10 001 Zagreb

### د قاچاق پروړاندې ملي SOS لاین

0800 77 99 – SOS line
په کروشیا کې د انسانانو قاچاق قربانیانو لپاره پناه ځای چلوي

### کروشین سور صلیب

که تاسو یا یو کس چې تاسو یي پیژنئ انساني قاچاق سره مخ وي، تاسو تاسو کولی شئ له دوی سره اړیکه ونیسئ په:
ټلیفون: 01/4655-814 (په کاري ورځو، 16.00-8.00)
پریښنالیک: trafficking@hck.hr
ادرس: Ul. Crvenog križa 14, 10 000 Zagreb

### “ISKORAK”

د LGBT د بشري حقونو د ملاتړ او د ځوانانو ټولنیز پاملرنې خدماتو په ډګر کې کار کوي.
ټلیفون: 01/4655-814 (کاري ورځې، 14.00-10.00)
پریښنالیک: info@iskorak.hr
ادرس: Petrinjska 27,
Zagreb 10 000

